# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com　　afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

انجینر داؤد اڅک
۲۳ سپتمبر ۲۰۱۶

# په افغانستان کې د ملي او غښتلي اپوزيسيون د جوړيدو ضرورت او لنده لار

ګرانو لوستونکو موږ او تاسي شاهدان يو چې د نړۍ ، سيمي او ګران افغانستان حالات ډير ګړکيچن او په حساس حالت کي قرار لري . د بده مرغه په ۲۱ پيړۍ کي داسي غير انساني ، وحشي او بدرنګه پيښي را منځته کيږي چې نه د اوسني انسان د شان او شوکت سره ښايي او نه هم د نن ورځې د ښکارهنګ (فرهنګ) سره همږغي لري . برعکس په نړۍ کي دوامداره جنګونه ، د ښاررونو ، مملکتونو ، تمدنونو ورانول او د بي ګناه انسانانو وژل په پراخه کچه د اوسني پرمختلي انسان لپاره شرم او د پزي پيټک دی .

د بيلګي په توګه په جنګ ځپلي افغانستان کي ۳۸ کلن جنګ هره ورځ هم په لس هاو بی ګناه او مظلوم افغانان وژني او هم ، اقتصادي ، توليدي ، فرهنګي ، او نظامي بنستونه ورانوي .

دا چي اوسنی تراجدي او ناوړه حالت دوام لري او د مظلوم اولس په ګټه هيڅ نه بدليږي دوه اساسی عامله موجود دي.

- لومړی اساسي عامل په افغانستان کي دوامداره او خونړی جنګ دی . دغه تپل سوی جنګ سربيره پر ورانيو د ټولني نوري بدبختی او ناخوالي لکه اداري فساد ، دولتی مافيا ، د محکو د غصب مافيا ، د مخدر موادو مافيا ، فقر او بيکاري هم پخپل غيږ کي تودي او ژوندی ساتي .

اوس د هر زړه سوانده او وطن دوسته سياست پوه دنده ده چي ترهر څه لومړی د عادلانه او تل پاتي صلحي د تامين لپاره فکر وکړي او لاس پکار سي چي صلحه څنګه ، څه وخت او د چا لخوا رامنځته کيدای سي.

- دوهم اساسي عامل چي تراجدی رازيږوي د اوسني کمزوري او د فساد نه ډک حکومت په مقابل کي و صلحي ته ږمن ، سالم او د ملي اپوزيسيون نه شتون دی . ځکه چي  په ديموکراتيکو او څو ګوندي سيستمو کي د پرمختګ او اصلاحاتو لپاره د يوه تکړه او ملي اپوزيسيون شتون مهم او اساسي شرط دی .

اپوزيسيون دنده لري چي په هر وخت کي د وطن په هر ګوټ کي او د حکومت په هره ساحه کي د حکومت کړني تر ځارني لاندي ونيسي . ښه کارونه ئې تائيد او تمجيد کړي بدي کړني ئې انتقاد او د اولس پر مخ رسوا کړي . په تيره بيا د ملت د سالمو غوښتنو او ملی ګټو په مقابل کي د حکومت د بی پروايي او ناپوهي په صورت کي بايد اپوزيسيون په کلکه سره و دريږي او د اصلاحاتو لپاره په ملي سطحه باندي په جدي ډول عکس العمل ښکاره کړي ، چي دغه تقابل پخپل ذات کي د ټولني د پرمختګ او اصلاحاتو ضمانت کوي . خو متأسفانه چي نن ورځ  په افغانستان کي د يوه تکړه ، ملي ، متعهد او سالم اپوزيسيون تشه موجوده ده.

اوس د افغانستان د وطندوستو او ویښو سیاسینو په عزم او ځیرکي پوري اړه لري چي څنګه کولای سي په ګډه سره فقط د افغانستان د ژغورولو په خاطر ، نه د خپلو سیاسي او قومی ګټو د ساتلو په خاطر داسي یو الترناتیف رامنځته کړي چي د دواړو عواملو ( د جنګ ختم او د اپوزیسیون ایجاد ) لپاره یو جواب ولري .

یعني ( یو تیر او دوه نښانه ) .

په دې معنا چي : په افغانستان کي د ۱۵۰ په شا وخوا کی سیاسي ګوندونه او سازمانونه فعالیت کوي ولي بیا هم نسي کولای چي اوسني ناوړه او دردونکي شرایطو ته د افغانستان د اکثریت خلګو ، دیموکراسی او صلحي په ګټه بد لون ورکړي . دا ځکه چي تراوسه پوري هیڅ یو ګوند ، ا ئتلاف یا جبهه پدې نده توانیدلي چي د یوه سرتاسري او غښتلي اپوزیسیون ځای ونیسي څو په عملي ډګر کي پر حکومت ، مخالفینو او د افغانستان په مسائلو کي پر شکیلو خارجي هیوادو باندي د فشار د وسیلي په حیث خپل تآ ثیرات وښندي .

اوس مرکزي سوال همدغه دی چي د افغانستان سیاسي غورځنګ ولي نسي کولای چي په ګډه او تفاهم سره یوغښتلی، سراسري او ملي اپوزیسیون ټولني او نړی ته معرفي کړي ؟

د یوه تکړه او سراسري اپوزیسیون د رامنځته کیدو په لاره کي لاندي درې غټ خنډه موجود دي :

۱- اول خنډ رواني دی چي د سیاسینو خان غوښتنه او خپل محوري ده . متأسفانه په افغانستان کي هر سیاسي شخص یا ګوند غواړي چي په رهبري کي کرار ولري او هر څه دده پر محور را وڅرخي ، چي دا کار نه یوازي ناشونی دی بلکه د ګډ کار او یوالي تر منځ د چین دیوال هم دی . زه هیله مند یم چي د افغانستان زړه سوانده او وطندوسته سیاسیون د خپلو رنځیدلو خلګو او ملي ګټو په خاطر تر خپلو سیاسي ، قومي او سکترستي علایقو ، سلایقو او عقایدو څخه تیر سي او د خونړي وطن د نجات لپاره په پوره جدیت او مسؤولیت سره لاس په کار سي .

۲- غټ خنډ چي په ټوله سیاسي غورځنګ کي په تیره بیا په پروني چپ بلاک کي له ورایه ښکاره دی هغه د مشخص او مشترک هدف نه درلودل دي . پرون افغاني چپیانو ( بې طبقاتو داسي ټولنه غوښتل چي فرد د فرد لخوا استثمار نسي ) او د همدغه هدف لپاره ئي بې امانه مبارزه کول . خو د پرون چپیان چي نن په هر سازمان یا ګوند کي فعالیت کوي باید په ډاګه او جرئت سره ښکاره کړي چي نن څوک دي او څه غواړي .

ایا د پرون چپیان دي او که نه ؟

که د پرون چپیان دي هم باید په شفافه توګه خپل هویت او خپل نني مشخص اهداف معرفي کړي او که د پرون چپیان ندي بله لاره یا نوې لاره ئي خپله کړیده هم باید خپل ځان او ځانګړي اهداف و جنبش ، ټولني او نړی ته ور وپيژني .

خو متأسفانه دغه ګونګ او مجهول حالت نه یوازي د پرون په چپیانو کي بلکه د افغانستان په ټول سیاسي غورځنګ کي د لیري څه ښکاره دی .

یو متل دی چي وائي : (شني په غلا نه چیچل کیږي) . هر سیاسی ارګان باید په شفاف او مشخص ډول خپل اهداف و ټولني ته معرفي کړي چي څه غواړي او څنګه ئي غواړي . ځکه چي د مشخص یا ځانګړي هدف ټاکل د یوه سیاسی ارګان په جوړښت کي مرکزي او مهمه نقطه ده .

خو د هدف په ټاکلو کي هم دقت پکار دی او باید ډیر فکر وسي چي ټولنه او اولس په لومړي ګام کي کوم ملي ارزښ ته ترنورو ملي ارزښتنو ډیر ضرورت لري او د کوم ټولنیز مرض څخه ډیررنج وړي . بریالی او تاثیر ګذاره ګوند به هغه وي چي د ارزښتونو لومړیتوب او ضرورت د ټولني د شرایطو او د اولس د غوښتنو پراساس ردیف او ترتیب کړي او په مقابل کي ئي د هغه ناجوړی پیژندنه وکړي چي ټولنه د بربادی کندي ته پوري وهي .

نن ورځ ټولو افغانانو او نړیوالو ته معلومه ده چي جنګ ځپلی افغانستان تر ټولو لومړی وعادلانه ، تل پاتی او سراسري صلحي ته ضرورت لري او ترټولو زیات د (جنګ) څخه رنج وړي . ځکه چي نه ناټو وکړای سول چي په جنګ سره امن او ثبات رامنځته کړي او نه هم مخالفین کولای سي چي د نظامي لاري څه حکومت تر لاسه کړي .

بناءً که د افغانستان سیاسي ګورځنګ په جدیت سره د دغه زړه دردونکي حالت څخه د مظلومو افغانانو خلاصون غواړي او د مادي نعمتونو په فکر کي ندي نو باید په یوه تیر دوه نښانه وولي .

په یوه تیر دوه نښانه هغه وخت ویشتلای سي چي لومړی ټول وطندوسته سیاسي ګوندونه ، سازمانونه او حلقات دا ومني چي صلحه د ټول بشریت په تیره بیا د جنګ ځپلي افغانستان لومړنی ضرورت دی . په دوهم ګام کي ټول دغه سازمانونه او احزاب باید عادلانه صلحه د خپلو اهدافو سردار او د خپل لومړي او مشخص هدف په حیث ټولني ته ور وپیژني .

بیله شکه چي د صلحي د تأمین او میکانیزم په هکله نظریات او عقاید بیل دي خو د سیاسي ګورځنګ لخوا منل سوی او مشترک میکانیزم هغه وخت رامنځته کیدای سي چي لومړی ټول هغه سیاسیون چي په ریشتیا سره صلحه غواړي د صلحي تر چترلاندي په یوه پلاتفورم کي سره ټول سي او په ګډه سره یو عملي او عیني میکانیزم ایجاد کړي او د خپلي کړنلاري مشعل ئي وګرځوي .

د عادلانه صلحي لپاره ګډ کار به د لومړي هدف په حیث لاندي دوه نښانه وولي :

یو داچي ځانګړی او مشترک هدف به رامنځته سي چي په خپل ذات کي د یوه سیاسی ارګان د جوړیدو لپاره د نطفي حیثیت لري . ځکه چي یو سیاسی جوړښت به بیله مشخص هدف څخه د هغه کښتی په شان وي چي قطب نما و نلري او همیشه ئي لاره ورکه کړې وي . یعني د عادلانه صلحي تأمین د ګډ او ځانګړي هدف په حیث د ټولو وطندوستو او صلحه غوښتونکو ځواکونو د راټولیدو لپاره په یوه اپوزیسیون کي هغه مشترکه نقطه ده لکه د میریانو د راټولیدو لپاره چي د عسلو یوه قطره ده .

بل نښان داچي د لوړ او ځانګړي هدف درلودونکی اپوزیسیون به د صلحي په تأمین سره خپل نیک او انساني ارمان او لومړي هدف ته رسیدلی وي چي د ورستیو نیکو اهدافو د پیاده کولو لپاره زمینه ورته برابروي .

نوټ : د صلحي تأمین تر ټولو لومړی ملي ، سالم او متعهد حکومت ته ضرورت لري .

۲۰۱۶-۹-۲۱